مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۱/۱۲/۱۰

# د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

## دويم ټوک

### يوشپېتمه برخه

## فراه

## او

## د افغانستان سويلي برخې

## تصحيحات

## ډاکټر لوډويک . ډبيلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973
**لودویک آدمک**

**کياني:** دا د يوهٔ قوم نوم دی چې په سيستان کې د هلمند په فارسي برخې کې استوګنه لري. دلته په افغان خاوره کې د دوی يو لږ شمېـــر سته. د سيستان د مأموريت غړي مير شمس شاه په ۱۹۰۳ز کال کې د دوی په هکله لاندني معلومات راټول کړي دي:

يعقوب، چې د وخت په لړۍ کې د سيستان واکمن سو، د يوهٔ پېښ «مسګر» ليث زوی وو. نوموړي خراسان، شيراز، بلخ، کابل ونيول او له خپل سلطنت سره ئې ملحق کړل. کله چې نوموړی د بغداد د نيولو په تکل وتلی وو په لاره کې د قولنجو د ناروغۍ له کبله مړ سو. يولس کاله ئې سلطنت وکړ. د سيستان کيانيان تصديقوي چې يعقوب په واقعيت کې د يزدِ جِرد «يزګرد – ژ» د ساساني د کورنۍ د وروستي پادشاه له اعقابو څخه وو. د يعقوب ځايناستی د هغـهٔ ورور عمر سو. نوموړي د ماورا النهر پر والي امير اسماعيل يرغل وروړ، په دې يرغل کې هغه (عمر) ژوند ونيول سو او بغداد ته واستول سو چې په زندان کې مړ سو. عمر ۲۳ کاله سلطنت وکړ. د عمر ځای ناستی د هغـهٔ لمسی طاهر بن محمد سو. نوموړی له شپږ کالو سلطنت وروسته خپلو اميرانو بندي کړ او ژوندی ئـې بغداد ته واستاوهٔ. په دې پسې خلف بن احمد د يعقوب د لور له اعقابو څخه د سيستان واکمن سو. نوموړي خپل مشر زوی ملک عمر له دې کبله وواژهٔ چې ملک عمر په کرمان باندې بريد کې ناکامه سوی وو. کله چې خلف پر کرمان باندې د بريد تکل وکړ دا دويم ځل وو چې سيستانيانو له دهٔ سره د مرستې له کولو څخه انکار وکړ ځکه نوموړي دغسې يو قتل کړی وو. په پای کې خلف يوه دسيسه جوړه کړه. خلف قاضي ابو يوسف چې په خپلې تقوا او ولسي شهرت کې نوم درلود د خپل د استازي په توګه د کرمان والي ته وليږهٔ، له قاضي سره ئـې يو بل څوک هم ملګری کړ او هغـهٔ ته دنده ورکړل سوې وه چې قاضي کرمان ته په رسيدو سره ووژني او د قتل ملامتي دې د کرمان پر والي واچوي. دا دسيسه کاميابه سوه او خلف په دې بريالی سو چې د سيستانيانو ملاتړ تر لاسه او پر کرمان باندې بريد وکړي، په دې کار کې ئـې خپل دويم زوی طاهر ته وکالت ورکړی وو، کله چې کرمان ئـې ونيو نوموړي د پلار پر وړاندې بغاوت پيل کړ او خپل استقلال ئـې اعلان کړ. له يو څه وخته وروسته خلف په مکر او حيلې د خپلې جدي ناروغۍ پلمه جوړه کړه او له خپل زوی څخه ئـې وغوښتل چې راسي او د دهٔ سلطنت او ثروت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څېر و لولـئ

دواړه دې واخلي. کله چې طاهر راورسيد له رارسيدو سره سم يو ناڅاپه د خپل جعلي مرګ له بستره ئې ټوپ وواهه او خپل زوی ئې د خنجر په ګوذار مړ کړ. د دغه قتل په ترسره کولو سره د دهٔ دوه زامن او د سيستان خلک له خلف څخه سخت خوابدي سول او د غزني له سلطان محمود څخه ئې وغوښتل چې سيستان ونيسي. خلف طاق اميران ته لاړ او هلته ئې تحصن ونيو خو ژر ونيول سو او غزني ته ولېږل سو چې وروسته له څلورو کلونو هماغلته مړ سو. په دې پسې سلطان محمود د خلف دريم زوی ابو حافظ له غزني څخه سيستان ته د سيستان د والي په توګه ولېږهٔ چې د هغهٔ اولادو د نولسمې پېړۍ تر نيماييو پورې هلته ارثي واکمني وکړه. کله چې سلطان سنجر سلجوقي د توران پر پادشاه قور خان بريد وکړ نو په دې بريد کې ورسره د مرستې لپاره د سيستان کياني، ملک تاج الدين هم وو. قور خان، ملک تاج الدين ونيو خو له يوهٔ کال وروسته ئې ملک تاج الدين بيرته سيستان ته په درناوي ولېږهٔ. د سلطان سنجر سلجوقي له مړينې وروسته د کياني سلطنتي کورنۍ بيا په سيستان کې واک ته ورسېدله او د دوی سلاطين د سلطانِ نيمروس په نامهٔ پېژندل کېدل. له دې کورنۍ څخه چې لومړنی تن سلطنت ته ورسېد ملک تاج الدين وو. وروسته د دوی سلطنت د تاتاري مغلو په لاس ړنګ سو. د «ګوډ – ژ» تيمور د يرغل پرمهال ملک قطب الدين د سيستان واکمن وو او زاهدان چې يو پرتمين ښار وو د دهٔ د واکمنۍ پلازمينه وه. د زاهدان له ړنګولو وروسته «ګوډ – ژ» تيمور، ملک قطب الدين سمرقند ته ولېږهٔ. د تيمور د ځايناستي د شاهرخ د واکمنۍ پر مهال، قطب الدين له سمرقنده وتښتېد او هغهٔ ته «شاهرخ – ژ» ته هرات ته ورغی، د قطب الدين چار چلند ئې تر دې حده خوښ سو چې قطب الدين ئې بيا د سيستان د والي په توګه وټاکهٔ. سيستان ته له رسيدو سره سم قطب الدين هڅه وکړه چې د خپلې سيمې وران ويجاړ حالت تر يوې کچې له سره سمبال کړي او د يو څه وخت له تيريدو وروسته ئې شاهرخ ته د باج له ورکولو انکار وکړ، شاهرخ پر سيستان بريد وکړ او بيا ئې له منځه يووړ؛ په پای کې قطب الدين قلعهٔ فتح ته راغی او دلته ئې استوګنه غوره کړه. د شاه عباس صفوي د سلطنت پر مهال، لومړي ملک جلال الدين د ډېرو پيسو په مصرولو سره سيستان بيا په وګړو ډک کړ. له جلال الدين وروسته د هغهٔ مشر زوی ملک حمزه خان د پلار ځايناستی سو او په ملک حمزه پسې د هغهٔ ورارهٔ ملک نصرت خان په ۱۰۵۵ هجري کې د ملک حمزه ځايناستی سو. د ملک نصرت خان ځايناستی د هغهٔ مشر زوی ملک جعفر خان په ۱۰۵۸ هجري کې او بيا ملک فتح عليخان د ملک نصرت خان دويم زوی په ۱۱۰۴ هجري کې د هغهٔ ځايناستی سو. په ملک فتح عليخان پسې د هغهٔ مشر زوی ملک محمد حسين خان په ۱۱۳۴هجري کې والي سو. ملک محمد حسين لا ژوندی وو چې ملک عبدالله د ملک جرار خان زوی د شاه طهماسپ صفوي په مخ کې د سيستان د ولايت دعوی کړې وه او شاه طهماسپ هم د والي په توګه ټاکلی وو. نو ملک محمد حسين خان له خپل ورور ملک محمود خان سره «تون» ته لاړ او هلتهٔ ئې لويه ډله راټوله او خپل استقلال ئې اعلان کړ. د شاه طهماسپ ستردرستيز فتح علي ورباندې بريد وکړ او دهٔ «محمد حسين» د «شاه محمود» له ويرې شاه طهماسپ ته بيعت وکړ او شاه طهماسپ هم ورته د خراسان د ولايت د والي توب دنده ډالۍ ورکړه. په دې کې ملک محمد حسين خان له خپل ورور سره مشهد ته د امام رضا زيارت ته لاړ او خپل ورارهٔ کلبعلي خان ئې د خپل ځايناستي په توګه پرېښود. دلته دهٔ په خپل ژوندون کې خپله واکمني خپل ورور ملک محمود خان ته چې د شاه محمود په نامهٔ پيژندل کېږي وسپارله او ګوښې توب ئې غوره کړ او يو څه وخت وروسته مړ سو. ملک محمود خان نيغ په نيغه واکمن سو او خپل استقلال ئې اعلان کړ، په دې پسې ئې خپل ورارهٔ ملک لطف عليخان له خپل لښکر سره ولېږهٔ او نيشاپور ئې ونيوهٔ. د شاه طهماسپ د ستردرستيز نادر لښکر په مشهد بريد وکړ، د يو څه وخت په تېرېدلو او هلته پاتې کېدلو سره ملک محمود خپل بيعت اعلان کړ او په ۱۱۳۹ هجري کې په دې پلمې ووژل سو چې نوموړي (ملک محمود) د مرې تورکمنان د بلوا لپاره تحريکول. ملک لطف عليخان له مشهده وتښتېد او کلب عليخان ته ورغی. وروپسې کله چې نادر په دوی باندې بريد وکړ ملک کلب عليخان او ملک لطف عليخان غلزي پادشاه، شاه اشرف (هوتکي – ژ) ته ورغلل، دا مهال شاه اشرف د اصفهان پادشاه وو. وروپسې شاه اشرف په ملک لطف عليخان باندې يو ډول شکمن سو او دې ئې تر څار لاندې ونيو. کله چې نادرشاه، شاه اشرف ته ماتې ورکړه، ملک لطف عليخان، نادرشاه ته پناه ورووړه او هغهٔ هم لطف عليخان په راتلونکي کې نادر شاه ته د وفا کولو او د يو زر تنو سيستاني سپرو جنګياليو د برابرولو په شرط د سيستان والي مقرر کړ. کله چې ملک لطف عليخان سيستان ته راغی، ملک اسدالله د سيستان والي وو، خو د سيستان وګړو په يوهٔ غږ په دې رضائيت وښود چې ملک لطف عليخان د والي په توګه مني او ملک اسدالله بيرته نادر ته ورغی. کله چې نادر د دويم ځل لپاره په روم بريد وکړ نو له دهٔ سره ملک لطف عليخان له خپل سيستاني لښکر سره يو ځای د مرستې لپاره مل وو. څو وخته وروسته کله چې نادر د سيستان له لارې پر کندهار د بريد په تکل له سيستانه تېرېدهٔ، ملک لطف عليخان ته ئې د ځان له پلوه استازيتوب ورکړ چې د کرمان بلوڅان وځپي. نوموړي هم کرمان ونيو خو يوهٔ قاتل وويشت او ځای پر ځای ئې وواژهٔ. نادر هم له ځنډ پرته دويم ملک فتح عليخان، د ملک لطف عليخان دويم ورور د سيستان د والي په توګه وټاکهٔ. دويم ملک فتح عليخان له خپل سيستاني لښکر سره پر هندوستان او توران باندې د (نادر شاه) په يرغل کې د مرستې لپاره د نادر شاه له لښکر سره يو ځای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سو. سیستان ته بیرته له راتگ وروسته د یو څه وخت په تیرېدلو سره ملک فتح علی خان د نادر شاه له بیعته لاس واخیست او استقلال ئـي اعلان کړ. نادر شاه د دهٔ پر ضد د محمـد رضا خان تر مشری لاندي یو ځپونکی لښکر ولېږهٔ، نوموړی لومړی فراه ته راغی او د دهٔ او د دویم ملک فتح علیخان تر منځ جګړه و نښتله او دویم ملک فتح علیخان په کي ماته وخوړله. په پای کي د دوی په منځ کي په دې شرط صلح وسوه چې دویم ملک فتح علیخان دې له امیر قمبر سربندي او محمد رضا، کلانتر سره د نادر شاه مخې ته حاضر سي. د دوی له رسیدو سره سم نادر شاه د دوی سترګي ور ایستلې. دویم ملک فتح علیخان په ۱۱۶۰ هجري کال کي مړ سو. د نادر شاه له وژل کېـدلو مخکي د هغـهٔ وراره علي قلي خان په سیستان کي وو خو علي قلي خان ئـي پر وړاندي بغاوت کړی وو. د نادر شاه له وژل کېـدلو وروسته نوموړی یو ناڅاپه خراسان ته لاړ او خپل سلطنت ئـي اعلان کړ او خپل ځان ئـي د علي عادل شاه په لقب یاد کړ. د ملک فتح علیخان ورور، لومړي کیاني ملک سلیمان د دهٔ لیدلو ته مشهد ته ورغی، دلته د یو څه وخت له تیرولو وروسته نوموړی ئـي د کاشان د والي په توګه مقرر کړ، ملک سلیمان په کاشان کي د یو لنډ وخت له تیرولو وروسته بیرته راستون سو. احمدشاه سدوزي، افغان (اعلیحضرت سترواک ستر احمد شاه بابا رح – ژ) په کندهار کي د خپل سلطنت له استقرار وروسته هرات ونیو. ملک سلیمان ئـي د کتلو لپاره (حضور ته – ژ) ورغی او ملک سلیمان ئـي د سیستان د ګورنر په توګه مقرر کړ. یو څه وخت وروسته احمد شاه (بابا – ژ) کله چي پر مشهد باندي د برید لپاره روان سو نو د سیستان له لاري تېـرېـدهٔ نو ملک سلیمان ته ئـي د قائن [1] د ولایت دنده هم ورکړه. ملک سلیمان په ۱۱۹۶ هجري کي د احمد شاه (بابا – ژ) د ځایناستي سدوزي تیمورشاه (بابا – ژ) د سلطنت پر مهال مړ سو او د تیمور شاه (بابا – ژ) د فرمان پربنسټ د ملک سلیمان مشر زوی ملک محمـد نصیر خان د سیستان د والي په توګه مقرر سو. د ملک سلیمان له مړیني وروسته د هغـهٔ زوی دویم ملک سلیمان په ۱۲۱۳ هجري کال کي د سدوزي افغان (اعلیحضرت – ژ) شاه زمان د فرمان پر بنسټ د سیستان د والي په توګه وټاکل سو. له دې چي دویم ملک سلیمان ډېـر کوچنی وو نو د ولایت د ټولو چارو د پرمخ بیولو چارې د ملک محمـد نصیر خان کشر ورور ملک بهرام خان پرمخ بیولې. په ۱۲۱۷ هجري کال کي دویم ملک سلیمان له آس څخه د لویدلو په اثر مړ سو. د هغـهٔ ځایناستی ملک بهرام خان د سیستان د والي په توګه سو او په دهٔ پسې د هغـهٔ زوی دویم ملک جلال الدین خان د سیستان والي سو. دویم ملک جلال الدین خان د کامران، د سدوزیو د سلطنتي کورنی د وروستي پادشاه او د هغـهٔ (د کامران) د قاتل او وارث، وزیر یارمحمـد خان الکوزي افغان چې د هرات واکمن وو تر فرمانونو لاندې وو. د وزیر یارمحمـد خان له مړیني وروسته د سیستان بلوڅي سرداران د ملک د ضعف له امله د هغـهٔ پرضد سول او وئـي ایست. او په دې سره د کیاني سلطنتي کورنی دور هم پای ته ورسید.

یادونه: د دغې تأریخي څېړني مواخذ دا دي: الف: د ابن خلدون تأریخ. ب: تأریخ جهان ګشاهٔ نادري – میراز محمـد مهدي، ج: شجرة الملوکِ سیستان – نیش، ظهوري او صبوري – د سیستان شاعر. د: د فارس تأریخ – سِر جان مکولم. ی: د اسلام تأریخ – محمـد احسن الله عباسي.

**قزک**: ۳۶ – ۳۲، ۵۴ – ۶۴: د زمینداور د باغني په علاقه داری یو کلی دی او ویل سوي چې ۳۰ کورونه لري. (صاحبداد خان). *دا کلی د باغني د غرهٔ ختیځ کي واقع دی.*

**قاضي**: وګورئ: خاشروډ

* **کني**: وګورئ: کاني: ۲۰ – ۳۲، ۱۵ – ۶۴
* **کِنجک مزار**: وګورئ: خنجک مزار: ۳۷ – ۳۲، ۵۶ - ۶۴
* **کرتاکه**: وګورئ: کرتاکه: ۵۴ – ۳۰ ، ۵ - ۶۴
* **کشت**: وګورئ: کشت: ۳۹ – ۳۱، ۶ – ۶۳

**خاهک**: ۴۶ – ۳۱ ، ۳۵ – ۶۲: د خاش د شمال لویدیځ په ۲۵ مایلی کي یو کلی دی.

خیر آباد: وګورئ: ګرمسیل

**خیر آباد**: ۳۵ – ۳۱، ۳۰ – ۶۱: په سیستان کي د فراه روډ د سیند پر کیڼي غاړې د پشاوران او لاش جوین تر منځ یو کلی دی؛ دا کلی ۲۰ یا ۳۰ کورونه او ۱۲۰ تنه وګړي لري چې پښتانـهٔ پوپلزیان دي. دا کلی په مسکین او خوار ډول جوړ سوی بې وزلی کلی دی. دلته د هندي جوارو څو پټي سته چې د فراه روډ له یوهٔ کوچني کانال څخه خړوبېږي چې د حصار له شمال لویدیځې ډډې څومایلي لیرې بـهېږي. (ګولد سمیت، بیلو)

په ۱۹۰۴ز کال کي د دې کلي د وګړو شمـېر ۱۰۰ کورني وو. دلته ۸ پګوګاني سته چې ټولي ئـي غني دي او هري یوې کي ئـي د کال ۳ خرواره تخم کرل کېږي. ویل سوي چې کرنیزه خاوره ئـي ډېره ښه ده او یو د کرني وړ شاره ځمکه هم لري چې ۱۰۰ چارګو ده. لاندیني کسان د دې کلي ځمکوال دي:

[1] -Kain


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | |
|---|---|
| د کلي ملک :شیر محمد خان پوپلزی | ۲ پگوګاني لري |
| ملا سکندر | ۲ پگوګاني لري |
| محمد یوسف خان | ۲ پگوګاني لري |
| دوست محمد خان | ۲ پگوګاني لري |

ویل سوي چي د چخانسور آخوندزاده د محمد یوسف خان له لور سره وادهٔ کړی دی. (ایس. ایم – یعنی د سیستان مأموریت ۱۹۰۴) *د خیر آباد په نامهٔ بل کلی د خان نشین په لس مایلی کې په ۳۵ – ۳۰ ، ۳۶ – ۶۳ کې د هلمند پرغاړې واقع دی.*
**خیر آباد**: ۱۸ – ۳۲، ۱۵ – ۶۲: د کندهار – فراه پر سړک اووه لسمه مرحله ده چي له فراه څخه ۱۰ مایله لیرې ده. خیر آباد کي چندان شی نـهٔ سته، دا د دوه وو غرونو د لړیو تر منځ یوه دښته ده چي د دښتي په منځ کي یوه مربع ډوله په دیوالونو احاطه سوځای دی چي څلور دیواله لري او د توتو یو کوچنی بڼ لري او د یوهٔ سرخلاصي کاریز د ویالي په مرسته خړوبیږي او د دي ویالي تر څنګ د کمپ وهلو لپاره ښه ځمکه لري. په دي ځای کي لویدیځ لور ته ۴ مایله لیرې د کندک له کلي څخه د اړتیاوړ توکي ترلاسه کېدای سي، ویل سوي چي د کندک کلی ۱۰۰ کورونه او شل بڼونه لري او د کاریزونو په مرستي خړوبیږي او غلات او د څارویو خوراک توکي په کي پریمانه دي. استوګن وګړي ئـې: نورزیان، درانیان، علیزي او فارسیوانان دي. له دي کلي څلور مایله ورهاخوا د «نو دِه» په نامهٔ بیا څو نور کلي دي چي ۳۰۰ کورونه لري او د فراه روډ پر غاړې له فراه څخه ۱۲ مایله کښته واقع دي. استوګن وګړي ئـې: بارکزیان او فارسیوانان دي. په دي قومي څانګي کي عبدالله خان بارکزی چي د نفوذ خاوند دی د دي ځای خان دي. (بومي معلومات، ایس ایم. ۱۹۰۴)
**خیره ناور**: ۲۴ – ۳۰ ، ۵۴ – ۶۳: د ګِردیُشت د شمال په ۱۸ مایلی کي یوه سیمه ده، دلته د ۱۹۰۳ز کال د فبروری په میاشت کي د سیستان د مأموریت اربو قطار د اوبو دنډونه موندلي ول. (ایس ایم. ۱۹۰۳)

## نور بیا

**خجو دِه**:

**یادونه**: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی توک ټولی او دویم توک ټولي برخي لوستی شی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ